د اومر خیریه مؤسسه

امن

خپرونه

دویم خپرونیز پړاو - پنځمه ګڼه جوزا ۱۳۷۷ هجري لمریز 1998 May

ښکلی او سمسور افغانستان
د ماینونو او جګړو له اغیزو څخه
وژغورئ

افغانستان زیبا و معمور
را از اثرات ماینها و جنگ ها
مصؤن سازید

Lets rescue beautiful and prosperous Afghanistan from the evil of mines and civil war.

خبرتيا

د امن مياشتنى مجله ستاسى هر ډول
فرهنګي ، تجارتي او نور اعلانونه په اغيزمنه توګه په ښو
شرايطو خپروي كه غواړئ چي په هيواد او بهر كې هرڅوک ستاسی د
اعلانونو څخه خبرتيا ترلاسه کړي په لاندې پته زمونږ سره اړيکې
ټينګې کړئ.

آگاهي

ماهنامه (امن) هرنوع اعلانات فرهنگي ، تجارتي وغيره
شمارا به طور مؤثر با شرايط مناسب نشر مي نمايد. اگر ميخواهيد
تا ازاعلانات شما هركس در داخل و خارج كشور باخبر گردند به
نشاني ذيل با ماتماس بگيريد.

ATTENTION

OMAR, AMN (Safety) monthly magazine will publish your advertisements of any kind (cultural, business, etc.) in an effective manner and fair conditions.
If you would like to disseminate your messages inside the country or abroad, contact us at the following address:

House # 15, Opposite Tatara Park , D1, Phase 1, Hayatabad,
Peshawar, Pakistan.
Tel: (0521) 812084, Fax: (0521) 812085 - P.O. Box 1433 Universtiy Twon

The front cover shows Hazrat Ali (Karamallah Wajaha) Shrine (Mazar Sharif)

دپوښ لومړی مخ دحضرت علي کرم الله وجه
زيارت (مزارشريف) ښيي.

امن

خبرونه

دویم پړاو پنځمه ګنه
جوزا ۱۳۷۷ هجري لمریزکال

د امتیاز خاوند:
د افغانستان د ماین پاکولو او
بیا ودانولو موسسه (اومر)

مؤسس: الحاج ف . ك. «فضل» عبدالرُحیمزی

کتوونکي ډله:
پوهنوال ډاکتر زیورالدین زیور
پوهندوي ډاکترغلام دستگیر حضرتي
ډاکتر سیدفضل رباني
پوهنمل شیرخان «رشتین»

مسؤل مدیر:
پوهنمل شیرخان «رشتین»

تدوین او اهتمام:
انجینر محمدعطاءالله «جواد»

عکاسي: محمدحنیف «علیم»

پته:
کورنمبر ۱۵، تاتارا پارك ته مخامخ ،
لومړی فیز، حیات آباد، پیښور
پاکستان.
تیلفون: ۸۱۲۰۸٤ فاکس: ۸۱۲۰۸۵

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د ماین پاکولو او بیاودانولو مؤسسه (اومر)

په دی ګنه کی

مضمون	مخ
امن دښمنه ماین........................	۱
د بادغیس په ولایت کی داومر خیریه	۱
مؤثریت و درخشش کارماین پاکي	۲
امن دښمنه ماین (پاتی برخه)............	۲
دماین پوهنی او ژغورنی په	۳
انفجارماین و بررسي اثرات آن برروحیه......	٤ - ٥
چنګاښ په شانتی ماین.................	٦
د ادب وږمی............................	۷ - ۸
د کډوالی کړاو اودماین ناورین	۹
اخبار....................................	۱۰

(English Part)

1	Mine in enemity with safety.....................
2	OMAR mine clearance & mine awareness field activities..
4	OMAR's Brilliance................................

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

امن
دښمنه
ماین



د مسؤل مدیر یادښت

آیاتاسی یوه ګړی په دی هکله غور کړی دی؟ چی ماین د نړی په څومره ډیرو هیوادونو او په خاصه توګه زموږ په ګران هیواد افغانستان کی دڅومره بي ګناه خلکو د ژوندانه سره لوبي کړي دي. څومره انسانان یي د مرګ کندې ته غورځولي دي . ماین د انسانیت او بشریت سره او دهغوي د سولی او امن سره څومره دښمني کړي ده، څومره ماشومان، ځوانان، ښځي او نارینه ددغه ړانده دښمن ښکار شوي دي.

هغه سرسندونکي بشرپاله وګړي چی د بشري امن په لاره کي یي د سر په بیه د نورو ژوند د ماین له ګواښ څخه ژغورلی دی او ډیرو یي په دي لاره کي خپل ژوند، لاسونه، پښی، سترګي او د بدن غړي له لاسه ورکړي.

آیا ددوي دغه سرښندنی او قرباني ښایي بي ارزښته وګنل شي؟ نه هیڅکله.

اوس فکر کوم خبره روښانه شوی ده، انسانانو اوس خپل دوست او دښمن پیژندلی دی، نن ورځ خلك په دي هم پوه شوي دي چی څه باید وکړي؟

یوی خواته ماین او د ماین په شان وژونکی انسانان دي . لکه څرنګه چی ماین یوخطرناکه او ړوند دښمن دی،رحم نه لري، په چایی زړه نه سوځي، په خته کي یي ورانی ویجاړی او بربادي اخښل شوي ده. دغه شان د ماین په کار وړونکي او جوړونکي هم دغه شان خصوصیتونه لري.

باقی (٢) مخ

د بادغیس په ولایت کی د اومر خیریه موسسی دماینونو پاکولو اوخبرداری ژغورنده هڅی

بادغیس د هیواد په غربي برخو کی یو سرحدي ولایت دی چی د ترکمنستان سره یي پوله لګیدلی ده، هرات سره په لویدیځه او جنوبي برخه کی،غورسره په ختیځه او جنوبي برخه کی او د فاریاب سره په ختیځه برخه کی ګډي پولی لري.

د بادغیس ولایت خلك د اقتصادي، صحي، تعلیمي او تربیوي پرمختګ په برخه کی ډیر وروسته پاتی دي زیات شمیر خلك یي بهرنیو هیوادو او ګاونډیو سیموته کډوال شوي یوشمیر کډوال خلك د هرات ښار د شیدائي او مسلخ په کمپونو کی اوسیږي چی ددیرو زیاتو ستونزو سره مخامخ دي.

د بادغیس ولایت خلك زیاتره په مالداری او کرنی مصروف دي څه ناڅه دلاسي اوبدلو کارونه هم سرته رسوي البته سره له دي چی ددغه ولایت خلك د ژوندانه په بیلابیلو برخو کی دډیرو زیاتو اقتصادي، صحي، تعلیمي او تربیوي ستونزو سره مخامخ دي د پخوانیو وختونو څخه تر اوسه پوري د جنګ جګړو ناوړه اغیزو هم د بادغیس د خلکو ژوند د کړاوونو سره مخامخ کړی دی. په دغه ولایت کی ډیر زیات ماینونه د تیرو وختونو څخه پاتی شوي دي. او دماینونو ستونزی اوس هم په دغه ولایت کی دخلکو ژوند دخطر سره مخامخ کړي دي څرنګه چی وویل شول د بادغیس هیوادپال او دینداره خلك زیاتره د مالدارئ په شغل بوخت دي نو د ماینونو خطرونه زیاتره دوي او ددوي څاروو‌ته ګواښ ګڼل کیږي. د خلکو د پوهی دسطحی د ټیټوالي او اقتصادي ستونزو له امله هره ورځ زمونږ زیادهیوادوال په دغه ولایت کی د ماینونو د پیښو ښکار کیږي.د بادغیس په ولایت کښی ډیر زیات ماینونه او ناچاوده مهمات د اومر خیریه موسسی د ماین پاکی د تیمونو له خوا پاك او له مینځه وړل شوي دي.همداشان ډیرو خلکوته ددي موسسي د ماینونو د خبرداری تیمونو له خوا د ماینونو د خطرونو په هکله خبرتیا ورکړي شوي ده.

د روان کال په لومړیو میاشتو کی د اومر خیریه موسسی د ماین پوهنی او ژغورنی دوه تیمونو ددغه ولایت خلکوته دماینونو د خطرونو په هکله خبرتیا ورکړی ده.

یو تیم د هرات ښار د شیدائي او مسلخ په کمپ کي کډوالوخلکوته او یو ګرځنده تیم په خپله د کلای نو په ښار کی خلکوته خبرتیا ورکړی ده.

څرنګه چی اوس هم په بادغیس کی دجګړی اغیزي لیدل کیږي نو خامخا د ماینونو خطرونو دخلکو ژونددستونزو سره مخامخ کړي دي. په اوسني وخت د ماین پوهنی او ژغورنی یو خبرتیایي ګرځنده تیم ددغو خلکو د خبرتیا او ژغورنی لپاره د هغه ولایت په مربوطاتو کی فعالیت کوي او خلکوته د ماینونو او ناچاوده مهماتو د خطرونو څخه خبرتیا او ژغورنه ورکوي. همداشان دماینونو دپاکولو یو تیم دهغه ولایت د مرغاب ولسوالي د ماینونو او ناچاوده مهماتو له شر او ضرر څخه پاکوي.

مونږ هیله مند یو چی د مرستندویو نړیوالو ادارو او دافغانستان د زړه ورو خلکو د همکاری په اساس ژر ترژره د ماینونو او ناچاوده مهماتو د شر او ضرر څخه زمونږ د ګران هیواد افغانستان ټولی سیمی او خلك وژغورل شي. او په دي توګه وکولی شي د خپل هیواد او سیمی د بیا رغاونی په کار کی اغیزمنه ونډه واخلي. □

مؤثریت و درخشش کارماین پاکی مؤسسه خیریه اومر

مؤسسه خیریه اومر که از سال ۱۹۹۲ کار پاکسازي ماین ها را در ولایت و شهر هرات آغاز نمود و در کمترین وقت توانسته است بزرگترین کمربند امنیتي هرات را که دارای تعداد زیات ماینها و مواد منفجره بود پاکسازي نماید. مجموعاً به تعداد شش تیم ماین پاکي این مؤسسه برعلاوه ولایت هرات در ولایات فراه و بادغیس عملیات پاکسازي ماینها را به وجه احسن انجام داده اند. به اساس بلند بودن کمیت و کیفیت این فعالیت ها منابع کمك دهند در سال ۱۹۹۶ موافقه نمودند تا فعالیت هاي دو تیم جدید را در چوکات این مؤسسه تمویل نمایند. این دوتیم در ایام گرما در ساحه ولایت کابل و در آیام سرما در ولایت کندهار به عملیات پاکسازي ماینها ادامه میدهند. ماین پاکان مسلمان ووطن دوست موسسه خیریه اومربا ایثارو از خود گذري سعی به عمل می آورندتا منازل، تاسیسات شخصي، دولتي مناطق زراعتي، صنعتي، مارکیت هاي تجارتي و غیره ساحات را پاکسازي نمایند تا هموطنان ایشان هرچه زودتر به منازل و مناطق خود دوباره برگشت نموده و به فعالیت هاي ایشان در عرصه هاي مختلفه ادامه دهند.

هیئت رهبري و کارکنان دفاتر مرکزي و ساحوي موسسه خیریه اومر همواره سعی به عمل می آورد تا با این پروگرام ها در همه سطوح همکاري نموده و زمینه هاي عملي شدن هرچه بیشتر امور مربوطه رامساعد سازند. در اثر همکاري و سعی همه جانبه کارکنان مؤسسه خیریه اومر زمینه پاکسازي ساحات وسیع درکشورمساعدگردیده است به اساس این فعالیت ها ساحهٔ وسیع از وجود ماینها و مهمات منفجرناشده پاکسازي گردیده و تعداد زیاد ماینهاي ضد زنده جانها، عراده جات و مهمات منفجرناشده کشف و از بین برده شده اند که دراثرآن تعداد زیاد هموطنان مهاجرما به کشور ایشان عودت نموده و به فعالیت هاي متنوع ایشان آغازنموده اند.

هموطنان ما این خدمات بشري ارزشمند موسسه خیریه اومر را بدیدهٔ قدر نگریسته در زمینه از هیچ نوع همکاري دریغ ننموده و خواهان توسعه هرچه بیشتر این فعالیت ها مي باشند. بر علاوه ایشان توقع دارند تا همه کشور ها و موسسات بشر دوست با درنظر داشت مشکلات مختلف، فعالیت ها و خدمات بشري ایشان را در افغانستان ادامه دهند تا مردم ما در فضاى صلح و آرامش در بازسازي کشور ایشان سهیم گردند. ○

امن دښمنه ماین . . .

چه په نوم ژوندي غوځیږي دوي خوښیږي
انسانیت ددوي عمل بـــاندی شـرمیږي
دماین نه گیله نشته وژنه یی عـــادت دی
خوانسان دماین په شان انسان ته حیرانیږي

بلی خواته هغه سپیځلي او پاك انسانان دي چی خپل ژوند د ټولنی او نورو انسانانو په ژوند کی گوري . دا د ماینونو د عملیاتي پروگرامونو هغه سرښندونکي دي چی د خطرونو په قبلولو سره نور انسانان له خطرونو څخه ژغوري دوي په دي ښه پوهیږي چی ړوند ماین ددوي مرگ ژوبلی ته لکه پټ دښمن انتظار باسي او ماین ډوله انسانان دغه ماینونه ځای په ځای کوي ولی دماینونو د پاکولو د عملیاتي پروگرامونو کارکوونکي د خپل انساني او بشري احساس له کبله سره له دی چی دغه خطرونهویني بیا هم د مرگ په قبولو سره د امن ددغه پټو او ښکاره دښمن په وړاندی جنگیږي خپله وسله یعنی ماین لټوونکي آله له لاسه نه غورځوي او غواړي د ژوند او امن په ښکلي پلوشو سره دغه تورتمونه روښانه کړي دا له ویاړه ډکه سپیڅلي لاره ده ددی لاری لارویان په دي هیله او باور دي چی ددوی هلي ځلي به خامخا بریالی کیږي. د ماین توری وریځی به د هیواد له هسکه راتولیږي، د ماین نوم او نشان به ختمیږي د سولی او امن د پلوشو دغه کاروان ځانته نه دی ډیر هیوادپاله مشران، اولسونه موسسی او بشرپاله نړیواله اداری ددوي سره په دي برخه کی مرسته کوي.

ددوي دا کاروان به انشاءالله منزل مقصود ته رسیږي.

د اومر خیریه موسسه ویاړي چی د امن ددغه کاروان سره مخ په وړاندی روانه ده او د افغانستان ځوریدلو او جنگ ځپلو خلکوته د ماین د خبرداری، ماین پاکولو او د هیواد د بیاودانولو د پروگرامونو د پرمخ بیولو له لیاری خدمت کوي د ماین ددښمنی مخه نیسي او د امن ښکلي پلوشي پراخوي. دهمدغه بشري خدمت له امله دی موسسی په هیواد اونړی کي ډیر ښه نوم گټلی دي او د هری ورځی په تیریدوسره ددی موسسی وړتیا او اعتبار لوړتیا مومي.

ددی لپاره چی دغه خیریه موسسه دخپلو بشري خدمتونو پرمخ بیولو کی نوربریالیتوبونه هم ترلاسه کړي او ژرترژره د امن دښمنه ماین له دښمنی څخه دافغانستان ځوریدلی او جنگ ځپلی خلك وژغورل شي د افغانانو او نړیوالو ملاتر او هر اړخیزو مرستوته اړتیا لري مونږ هیله من یو چی د ماین ددښمنی دختمولو په لار کی به ددی موسسی دامن له هڅو سره ملگرتیا وکړئ او په دي توگه به په دي لرغوني هیواد کی د امن ښکلي لمر یوځل بیا راوځلیري. او گران هیواد وال به وکولای شي حو د امن خوښونکی لوي خدای په تکیه دخپل وران او ویجاړ هیواد د بیارغاونی په کار کی اغیزمنه ونډه واخلي. ▨

دماین پوهنی اوژغورنی په پروگرام کی دسملاسي روغتیاساتنی ارزښت

د اومرخیریه موسسی په دي وروستیو وختونو د افغاني ټولنی د عینی اړتیا تر مخی وغوښتل څو د ماین پوهنی او ژغورنی په خبرتیائي پروگرام کی دسملاسي روغتیا ساتنی برخه پیاوړی او پراخه کړي.

تاسي ته څرگنده ده چی روغتیا ساتنه دماین پوهنی او ژغورنی په شان یو ه ژغورنده یا وقایوي برخه ده. له دی کبله ضروری وگڼله شوه څو د ماین پوهنی او ژغورنی د خبرتیائي درسي پروگرام سره دسملاسی روغتیا ساتنه هم د یوی ژغورنده پوهنی په توگه پراخه شي ځکه چی دماینونو دپیښو څخه وړاندی او وروسته د سملاسي روغتیا ساتنی لارښوونوته اړتیا لیدله کیږي ترڅو خلك په بشپړه توگه د مرگ او ژوبلی له خطرونو څخه وژغورل شي. د ماین پوهنی او ژغورنی په درسي پلان او پروگرام کی دغه ډول نویتوب او پراختیا د ټولنی د ټولو خلکو، لویانو، نارینه، ښځو او ماشومانو لپاره ضروري دي.

که څه هم د روغتیائي تدابیرو او لومړنیو مرستو ترحده پوری طبي معلومات له لومړی سر څخه د ماین پوهنی او ژغورنی په درسي پروگرام کی خلکوته وړاندي کیدل ولي اوس زیاترایستل کیږي څو د دغو معلوماتو ترڅنگ یو شمیر چاپیریالی روغتیا ئي پوهنی په ځانگری حدبندئ او نصاب سره په درسي پروگرام کی شاملی شي دغه زیاتونی به په لاندی ډول سر ترسره کیږي.

۱- ماشومانو لپاره د لومړنیو طبي مرستو په چوکاټ کی د پاکوالي، نظافت، د ناروغتیاوُ دمخنیوي تدابیر او د وینی بندولو په هکله معلومات وړاندي کیږي.

۲- د ښځو لپاره په ځانگړي توگه د کورنی روغتیائي اړتیاوو سره سم برسیره په نورو مطالبو د ماشوم ساتنی او پالنی په هکله روغتیائي پوهه ورکوله کیږي.

۳- ځوانانو او لویانو لپاره د لومړنیو طبي سملاسي مرستو په هکله لازم معلومات وړاندی کیږي برسیره په دي دوي ته د وقایوي روغتیائي اړتیا ووسره سم پوهه هم برابریږي.

دا ښکاره خبره ده چی په ډیرو حالاتو کی د یوه ناروغ (ټپي) سره د لومړنیو شیبو لنډه مرسته په روغتون کی د یوه لوی متخصص له مرستی څخه زیات ارزښت لري.

څرنگه چی زمونږ په گران او جنگ ځپلي هیواد کي د ژوندانه ټول وسایل او امکانات یا له مینځه تللي او یا هم ویجاړ شوي دي. او په تیره بیا د روغتیا په برخه کی خلك د ډیرو ستونزو سره مخامخ دي. خلك د اقتصادي حالت د گډودکیدو او بي کاری له امله نه شي کولای دخپل ژوند ټول ضرورتونه پوره کاندي.ددی ترڅنگ څرنگه چی په افغانستان کی ډیر زیات ماینونه او ناچاوده مهمات ځای په ځای شوي دي او هره ورځ زمونږ ډیر هیوادوال ددغو ړندو دښمنانو له کبله د مرگ او ژوبلی سره مخامخ کیږي. له دی امله د سملاسي روغتیا ساتنی گټوری لارښوونی د ماین پوهنی او ژغورنی د پروگرام نه بیلیدونکی برخی دي چی د خلکو لپاره د مرگ او ژوبلی څخه د ژغورنی پراخ امکانات برابروي.

ددغه کار گټه یوازي دا نه ده چی په دی کار سره به زمونږ گرانو هیوادوالو خپله روغتیا ژغورلي وي بلکه دوي به د هیوا د د بیاودانولو لپاره چمتوالی او وړتیا هم تر لاسه کړي ځکه چی روغ صورت واکمنی ده او سلیم عقل په سالم بدن کي وي او کله چی واك او عقل سره یوځای شي نو بیا ټول ناشوني کارونه خدای پاك شوني کوي او انسان د هرکار وړتیا ترلاسه کوي. د گرانو هیوادوالو څخه زمونږ هیله داده چی ددغه پروگرام ژغورنده لارښوونوته پوره پاملرنه وکړي چی د هغو سره سم خپل ژوند ته سمون ورکړي او دغه حیاتي لارښووني په خپل ژوند کی عملي کړي. تر څو زمونږ په هیواد کي د زیاتو ماشومانو، ښځو او نارینه ؤ د معیوبیدو او ناروغه کیدو مخنیوي وشي او په دي توگه ددغه شان پیښو او ستونزو څخه په امان کی پاتی شي. په دی کارسره به په هیواد کی سوله، امن، اوپرمختیا په رښتانی بڼه پراخه شي.

د اومر خیریه موسسه د همدغه انساني مقصد لپاره هلي ځلي کوي څو زمونږ په جنگ ځپلي هیواد کی ژر تر ژره د سولی، امن او پرمختیا حالات پیاوړي شي او خلك وکولی شي په ډاډه زړه د خپل هیواد د بیا رغاونی په هلو ځلو کی برخه واخلي. . □

دماینونودغه شان پیښی هروخت مینځ ته راتلای شي له دي کبله دسملاسي روغتیا ساتنی لارښوونوته پاملرنه وکړئ

انفجار ماین و بررسی اثرات آن بر روحیهء انسان

تحقيق مستند در مورد اثرات ماينها ارسالي محترمه معصومه خاوري عضو شوراى رضاكار پروگرام آگاهي و مصؤنيت از خطرات ماينها در منطقه جبرئيل ولسوالي انجيل ولايت باستاني هرات.

در مباحث عمده روانشناسي آنچه که از اهميت بسيار زيادي برخوردار است مسأله«روحيه» است. روحيه يك مسأله ساده نيست و شايد بتوان آن را عامل خوشبختي، رشد، ترقي و شگوفائي و يا عامل بدبختي، افول و سقوط يك انسان در زندگي دانست. امروز در كشور ما خصوصاً پدران و مادران عزيز توجه و التفات زيادي را به اين زمينه واين مسأله مهم در زندگی فرزندان ايشان مبذول نمي دارند و مي توان گفت فيصدي هاي بالای از والدين هستند كه گمان مي كنند پدر و مادر فقط براي تولد و غذا و لباس فرزند خلق شده اند وهم تعليم و هم تربيت را به عهده معلم و مدرسه واگذار مي نمايند از آنجايي كه بنده يك معلم هستم و حدود چندين سال درميان دنياي كودكان سير وسياحت نموده ام مي توانم به وضوح بيان كنم كه اين يك فكر و ايده غلط است زيرا تربيت به عهده خانواده است و تعليم به عهده كادرآموزشي هر كشوري بنابر ضعف اصول و روابط درست در جامعهء كنوني افغانستان مي توان گفت وظيفه يك معلم در افغانستان بسيار دشوارتر است زيرا در كنار تدريس و تعليم بايد دانش آموزان را تربيت نيز نمايند.

اما بايد بدانيم كه روحيهء هر انسانی خصوصاً كودكان بسيار سريع و با سرعت زيادنسبت به بزرگسالان تاثيرپذيرتر است.

هر چيزی در دنيای امروزي اتفاق بيافتد برروحيه و روان كودك تأثيرات متقابلی مي گذارد و باعث عكس العمل ها و انعكاساتی در حصه رواني و اخلاقي كودك مي شود كه به مرور زمان از برخوردهاي آن و بيانات كودكان مشاهده مي شود.

از جمله عوامل بررسي شده كه انعكاس بسيار شديدي به روحيهء كودكان خصوصاً كودكان مظلوم افغانستان گذارده و مي گذارد مسأله انفجار ماين است حال بايد انديشيد ما كه بزرگ هستيم زماني كه انفجار ماين را ببينيم يا صدای ان را بشنويم چه حالي داريم و چه تأثيراتی به روان وارد مي نمايد تا چه رسد به كودك خورد سالي كه هنوز مزهء خيلي چيزها را نه چشيده است. البته كودكان، دنيا را از دريچهء ديگری مي نگرند كه با دنياي ما وشما فرسخها فاصله دارد، دنياي آنان همان گونه كه هرچيزی زود در آن تأثير ايجاد مي نمايد زود نيز از دنيای شان محو مي شود، بنده چند مدتي قبل آزمايشي تحت عنوان «انفجار ماين و اثران آن بر روحيهء كودك» انجام دادم كه براي علاقمندان ارائه مي نمايم هر چند شايد خالي از عيب نباشد اما خالي از فايده نيز نخواهد بود

طبق آزمايشات و مقايسات انجام شده زماني كه ماين انفجار مي كند اگر كودك در همان حصه باشد و با صدای بسيار مهيبی آن مواجه شده باشد و از زبان بزرگتر ها نيز قصه صحنه هاي دلخراش انفجار ماينها را شنيده باشد

الف: گروه سنی (٥-١٠) سال: اين گروه به چند دسته تقسيم مي گردد.

١- گروه سني (٥-٧) سال:

كودكاني كه بين (٥-٧) سال هستند حد اكثر ٢-٤ روز بيشتر بر روحيه آنان تأثير دارد و بيشتر از ٤ روز به فراموشي سپرده مي شود در اين ٢ يا ٤ روز مشاهده مي شود كه تغييراتي در نوع بازي صحبت ها و ابراز احساسات كودك رخ داده و به وضوح مشاهد مي شود كه حدود ٥٠٪ كودكان خورد سال در حين بازي اگر وسايل آلات كوچكي را ببينند يا پيدا نمايند مي گويند «من ماين پيدا كرده ام» يا اگر صدای مثل كوبيدن به ديوار يا ريختن خاك بوسيلهء ماشين را بشنود زود مي گويد «ماين منفجر شده» و دربازي مي بينيم احتياط بيشتري مي كنند و در هنگام راه رفتن احساس خطر بيشتري مي نمايند و از ساحه رهايشي خويش دورتر نمي روند البته بايد توجه داشت كه اين موارد در ٦تا ٧ سال بيشتر از ٥ تا ٦ سال مشاهده مي شود اما تفاوت چنداني ندارد. اما با مرور زمان كه حد اكثر ٤ روز گذشت ديگر كودك كم كم و به روز هفتم و هشتم كه رسيد كاملاً كودك ترس را كنار گذاشته و به فعاليت روزانه خويش به روال سابق ادامه مي دهند.

٢- گروه سني (٨-٩) سال:

در گروه سني (٨-٩ سال) مي توان گفت بنابه آزمايشات انجام شده بر روي تعداد زيادي از دانش آموزان خود به اين نتيجه رسيدم كه حدود ٧٠٪ از كودكاني كه بين (٨-٩) سال عمر دارند، حادثه و انفجار ماين حدود ١٠-١٤ روز بر روحيهء اين گروه سنين تاثير مي گذارند اما تاثيرات آن عميق تر از گروه قبل مي باشند براي بيشتر كودكان دراين سن انفجار ماين يك صحنهء بسيار عجيب و در عين اينكه تأسف بار بوده بسيار هيجان انگيز نيز مي باشد مثال:

در حين انجام آزمايش و پرسيدن سوالاتي پيرامون رسيدن به هدف خويش از كودكی (پسر) پرسيدم لحظه انفجار ماين شما چه احساسي داشتيد يا چه احساس به شما دست داد؟

كودك اول- ترسيدم اما وقتي دودش را ديدم خيلي هيجان انگيز بود مثل فيلمهاي سينمائی خيلي جالب بود اي كاش آدم نمي كشت، كاش بازهم اين صحنهء را ببينم ولي كسي را نكشد و زخمي نكند.

آري معمولاً پسران كنجكاوتر هستند، از همهء دختران در مقابل اين سوال به يك جواب رسيدم كه آن اين بود. بسيار بسيار ناراحت

شدم از ترس گریه کردم، معمولاً اثر انفجار ماین بر روحیهء دختران بیشتر تأثیر دارند تا ١٤ روز کاملاً به یاد دارند و مدام خطر ماین را به دوستان گوشزد مي کنند اما پسران حد اکثر ١٤ روز بیاد دارندولي کم کم فراموش مي کنند و حتی بعد از انفجار ماین آنها بیشتر نسبت به ماین کنجکاو مي شوند اما کم کم همه چیز را فراموش کرده دوباره به کار هاي خطرناك گذشته خویش ادامه مي دهند دراین سن دربازي پسران بیشتر مشاهده مي شود که در ٣ روز اول معمولاً رول انساني را که ماین زده است بازي مي کنند ویا رول داکتر مربوطه را گاهي در حین صحبت با دوستان ادعا مي کنند در لحظه انفجار ماین اصلاً نترسیده اند و در حدود حد اکثر ١٤ روزي که انفجار را به یاد دارند معمولاً سعی مي کنند به محوطهء ای که انفجار رخ داده نزدیك نشوند و به مناطق و ساحهء که علایم ماین دارد نزدیك نمي شوند .

ب: گروه سني (١٠-١٥سال):

مي توان طبق آزمایشات انجام شده گفت حدود ٨٥٪ آنان تا حدود حد اکثر ٣٠تا ٣٥ رز انفجار ماین بر روان آنها تأثیر مي گذارد، باز نسبت به گروه الف گروه ب تأثیر بیشتری را مي پذیرند و به خطرات ماین به طور مشاهد مستقیم (دیدن صحنهء انفجار) یا مشاهده غیر مستقیم (شنید صدای انفجار) پی مي برند و در این گروه نوجوانان حد اکثر تا ٣٥ روز به یاد حادثهء روی داده هستند و بیشتر مراقب کوچکترها هستند در معابر عمومي دقت پیشتر مي کنند و گاهي حتی قدم گذاشتن به خیابان را نیز مي ترسند یا زمان راه رفتن منتظر هستند هر آن ماین زیر پایشان منفجر شود و حدود زیاد آنان تقریباً یك احساس بیزاري از زندگي به آنان دست مي دهند در طول این ٣٥ روز کمتر صحبت مي کنند و بیشتر به فکر فرو مي روند اما بر عکس گروه الف بیشتر از چگونگي انفجار ماین سؤال مي کنند.

بعد از ٣٥ روز کم کم فراموش مي کنند و بعضي در این سن (عدهء محدودي) تا ٣٦ روز نیزحادثه را به یاد میداشته باشند .

ج: گروه بین (١٥-٢٠سال):

مي توان گفت که این گروه سني جوانان بوده حدود ٩٥٪ آنان تا ٤٥یا ٥٠ روز نحوهء انفجار، عکس العمل مردم، صدای انفجار و صحنهء انفجار را به یاد دارند و بعد از آن ٥٠٪ این تأثیر تا حدود زیادي از بین مي رود اما کاملاً محو نمی شود و تا ٢,٥ یا ٣ ماه در خاطر انسان باقي مي ماند دراین گروه بیشتر آنان به منع نمودن کودکان مي پردازند و تا حد زیادي در ذهن باقي مي مانند این گروه که عموماً جوانان هستند از کشوربیزار مي شوند و با خود مي گویند چرا کشور ماچنین است یا چرا شرایط انطور است و صدها چرا ي دیگر.

از مباحث فوق مي توان نیتجه گرفت که هر ماین که منفجر شود به طور متوسط و میانگین تا ٢٢ روز ذهن صدها نفر را به خود مشغول کرده و از حالت نورمال و طبیعي آن خارج مي نمایند وحال آنکه گذشته از خطرات جاني و مالي با بازماندگان چنین مي کنند با توجه به اینکه به صدها هزار ماین در افغانستان فرش شده است اگرمتوالیا هر یك ساعت ١ ماین منفجر شود در ٢٤ ساعت یعنی یك شبانه روز ٢٤ عدد ماین منفجر مي شود و این ٢٤ ماین به طور متوسط ذهن ٢٤٠٠ نفر (اگر هرماین ١٠٠ نفر را از نظر ذهني به خود مشغول سازد) را به مدت ٥٢٨ روز و ١٠٦٧٢٠ ساعت از کارباز مي دارد .

حال این اسفناك ترین و فجیع ترین جنایت است که در اعصار مختلف کمتر و یا اصلاً دیده نشده است.

ما که معلم هستیم بعد از انفجارهر ماینی به طور متوسط تا ١٤ روز کلاس طبیعي در حالت عادي نداریم ، دانش آموزان از تحرك و تکاپو باز مي مانند، به یاد دارم بعد از انفجار ماین از دانش آموزان خود خواستم بعد از ظهر آن روز نقاشي هاي در رابطه با ماین بکشند. هدف من دستیابي به احساس و اندیشه آنان بود زیرا از نظر روانشانسي نقاشي روش مطلوب و مهمی براي رسیدن به درون انسان است بعد از بررسي نقاشي ها حدود (١٠٠٪) از دانش آموزان در نقاشي از رنگهاي تیره و زنندهء سیاه رنگ استفاده کرده بودند که اگر متوجه باشیم بیانگر دردهاي دروني و عقده هاي در دل نشسته آنان مي باشد همه به نوعی درد دروني خویش را به نحوی به تصویر کشانیده بودند مثال: در نقاشي بیشتر از رنگ سیاه کار گرفته شده بود مادر پریشانی با گیسوانی آشفته دست پاره فرزند را بر قلب مي فشرد و آنطرف ترپیکر پاره پاره جوان ١٨ سالهء ای را نشان مي داد که بدن وي آغشته به رنگ سرخ بود و آن طرفتر قبر آماده و تابوتی و در اطرف آن عدهء زیادی در حال شنیدن وناله و گریه، آری این زیان شدید ماین و انفجار آن است ، من پیشنهاد مي کنم ، کمیته هاي هر منطقه باید آماده گي داشته باشد اگر ماین انفجار یافت مدتی بعد زودتر کورس درهمان نزدیکي دایر نمایند زیرا به قول معروف »شنیدن کی بود مانند دیدن» همه ذهناً آماده پذیرش استو اثر عمیق تری شاید داشته باشد. من از مسؤلان محترم تقاضا دارم که گزارش مرا به گوش همه کساني که این دشمن کور بشر یعنی ماین ها را مي سازند برسانند و بپرسند که : آیا واقعاً وجدان دارند، آیا وقت آن نیست که همه آلات کشت خون بخصوص ماینها را از بین ببریم، آیا وقت آن نیست که دست از جنگ و خونریزي برداریم.

من یك جوان هستم درد جوانان را مي فهمم من یك انسان هستم، مي خواهم بگویم آي مردم، آی جهانیان بدانید امروز جوانان و نسل آینده افغانستان در مرحله نابودي قرار دارند.

در مرحله اول بر افغانهاست تا به خاطر باز سازي کشور ایشان با دشمن کور ماینها مبازره نمایند و تمام امکانات را در راه محو و نابودي این خطر به کار برند. به خاطر تقویه این فعالیت ها جوامع بین المللي و کشورهاي جهان نیز مکلفیت انساني ووجداني دارند تا افغانها را در این بخش تنها نگذاشته از مساعدت هاي لازمه آنها دریغ نه ورزند .

ما امیدواریم تا افغانها و جهانیان مکلفیت و مسؤلیت خویش را درك نموده و پیش از آنکه ناوخت شده باشد در راستای صلح وبهبود وطن سعی به خرچ دهند.

اطفال معصوم ما ، دختران، خواهران و مادران مظلوم ما برادران پدران و مردان این سرزمین بلاکشیده به صلح و امن نیازمند اند.

ما آرزومندیم تا دیگر صدای دلخراش انفجار ماین قلب هموطنان ما را تکان نه دهد و در عوض صدای صلح و آرامش در فضاي این کشور طنین افکند.

معصومه خاوري
عضوشورای رضاکار موسسه خیریه اومر

چنګاښ په شانتې ماین

دا تصویر د ماین د چنګاښي خصلت څرګندونه کوي

دا یو ماین دی چنګاښ نه دی البته د خوی او خاصیت له پلوه د چنګاښ سره ورته والی لري. ځینی خلك شاید په ګڼو ځایونو کی د ځان د پایښت لپاره ورڅخه په بیلابیلو ډولونو کار اخلي ولي دا ماین دهغه چنګاښ په شانتی دی چی د هیچا درد دوا کولی نه شي او د چا د پایښت سبب کیدای نه شي.

ماین د چنګاښ په شان ډیر بدشکله او ضرري دی. خدای دی چاته د هغی کرغیړنه څیره نه ښکاره کوي. الله دی ټول بنیادم ذات ددغه چنګاښ له شره په امان کی لري.

هغه چاچی د ماین ناولی څیره لیدلی ده او د هغو سره مخامخ شوي دي هغو بیا په ژوند کی ښه ورځ لیدلی نه ده ځیني ماینونه د چنګاښ په شان په اوبوکی هم ژوند کولی شي او زیات شمیر یې د ځمکی پر مخ هم پیدا کیږي.

ماینونه د چنګاښ په شان ښایي ځیني وخت چاته څه ونه وایي، ولی له بده مرغه که یو ځل چاپوری ونښلي نو بیایي بی ضرره نه پریږدي.

ددغه شان چنګاښي ماینونو په وجه ګودرونه شاړ شوي دي د ماشومانو او ځوانانو د لوبو ځایونه ویجاړ شوي دي هیڅوك په ډاډه زړه تګ راتګ کولی نه شي. د خلکو نه زړونه وتلي دي، په رګونو کي وینه وچه شوی ده او ددغو دښمنانو په وجه کور په کور او کلي په کلي د غم نوبت غږیږي.

که څه هم ماین خوله نه لري ولي ډیر بی ګناه خلك د مرګ کوهي ته دننه کولای شي. که څه هم ماین قوتناکی پنجی نه لري ولي د ډیرو خلکو د پښو او لاسونو پنجی له مینځه وړلی شي داسي ښکاري چی د ماینونو د احساس سترګی هم ړندی دي ځکه د چا دسترګو په قدرنه پوهیږي ، د ډیرو د سترګو رڼایي له مینځه وړي ده او ډیر خلك یي تورو تیارو ته کیتینولي دي. ډیر انسانان یي د مرګ کندي ته ورګذار کړي دي ، ډیر خلك یي بي پښو او بي لاسو کړي دي ، ماین د چا څیری ګریوانونه څه کوي؟ د چا اوښکي د ماین کلك زړه نرمولی نه شي، هغه ډیر سخت زړی دی د چا ددرد احساس ورسره نشته.

د احساس سترګه یي ړنده شوي ده. پاش پاش بدنونه، وانګی وانګی غړی او بوټی بوټی غوښی د ماین لپاره نا آشنا نه دي. هغه د وینو او مرګ ژوبلو سره روږدئ دی. هغه د ژوندانه ګلشنونه ویجاړوي او هغه له ژوندانه څخه هدیری جوړوي.

ماین لکه څرنګه چی ړوند دي دغه شان دکاڼه خصوصیتونه هم لري. هغه د بي ګناه خلکو د زړه آواز د زخمیانو زګیروي او دمرګ په پوله پرتو بي وسو وروستی سلګی نه اوري.الله دي مونږ ددغه ړانده او کاڼه دښمن څخه وژغوري.

ماین د چاپه ویر کی د بي وسه خویندو میندو او ماشومانو کړیکي او ژړاوی نه اوري.

دماین زهرو د خلکو په ژوندانه باندی داسي اور لګولی دی چه هر څه یی ورته لولپه او تباه کړي دي. د ماین د اور تاو د خلکو په رګونو کی وینه وچه کړی ده او دمرګ تندی د ژوندانه څخه کربلا جوړه کړي ده.

دا د ماین عادت او خصلت دی چی بي ګناه خلك ښکار کړي. ورځ او شپه یوځای بل ځای پټ او ښکاره،په دی انتظار کی وي چی څوك ناخبره پری پښنه کیږدي یا لاس وروړي نو ماین ورته خپل زور او خپل هیبت وروښیي.

ولی دا ناځواني ده چي په پټه او ناڅاپه دچنګاښ په شان بي ګناه خلك له پښو او لاسو نیسي، مظلومان تباه کوي، میندی کونډی او خویندي بوري او سرتوره کوي، ماشومان بي پلاره او بي موره ، اولسونه بي کوره او بي اوره کوي. دا د ظلم انتها ده خو وایي چی د ظالم کاسه نسکوره وي.

ماین چی دومره بي ګناه خلك د مرګ او ژوبلی سره مخامخ کوي ده ته څه په لاس ورځي؟ دی په خپله هم له مینځه ځي که څوك وایي چي ماین د ماین ایښودونکو د پایښت سبب کیږي.دا کار ممکن نه دی ځکه چه له ازاره چا بازار لیدلی نه دی او څوك چی بل چاته ازغي په لار کی ږدی نو کیدای شي همدا ازغی په خپله د هماغه په پښوکی خار شي څوك چی چاته په لاره کی کنده وباسي کیدای شي دهماغی کندی پر سر یي لار شي ، ماین د زهرلرونکو ژوو په شان خاصیت لري هغه باید نوروته ضرر ورسوي او د خلکو ژوند د ستونزو سره مخامخ کړي.

له دی کبله یوه انسانان باید ونه غولیږي او خپل دغه دښمن وپیژني، ځان او نور د هغو له شر او ضرر څخه وژغوري.. □



کلکه اراده

پوهاند رښتین

د ژوند باغ کښې په خندا هر یو خزان تیروم
په ټینګ همت او قوي زړه دغه طوفان تیروم

د څیړۍ ونه یم پروا مې له خزانه نه شي
زوږ اوسیلۍ واورې بادونه ټول په ځان تیروم

درس د ثبات مې دي زده کړې له دې لوړو غرو
له ځایه نه ښورم سختي ددې جهان تیروم

نه یم بلبل چې سپرلی د ګل په خوا کښې تیر کړم
د غرونو بازیم اوړي ژمي په یوشان تیروم

نه یمه ګل چې پسرلی دګل په خوا کښې تیر کړم
د وني ډډیم طوفانونه په یوشان تیروم

منزل دې لیرې شپه تیاره خطر د غل غدو دی
زه په همت له هرخطره خپل کاروان تیروم

سیند طوفاني دی کشتی هم له حده زیاته ډکه
زه به له سینده کشتی ډکه له سامان تیروم

رښتین یار که مي همدرده په ژوندون کې نه شو
دا ورځې شپې د ژوندانه به په څه شان تیروم

حوت -۱۳۲۱ش

پارچه شعری ارسالي خواهر منیره قاري زاده متعلم لیسه عالي دراني را به پاس تقدیر از احساس ایشان

ماین

تو میداني که من یك درس خوانم
همه چیز را به نفع خود ندانم
همه جاماینها لوکس قیمتي را
فرش کند دشمن این دام لعنتي را
دست پای همه را ماین میپراند
آتش آن همه هستي را میسوزاند
همه پیر و جوان وطن غمگین اند
زجور ماینها و مهمات حزین اند
به روي صفحه ها و پوستر ها
نمایان شده تصاویر ز ماینها
کنون افشا شده نام بد او
شوید به فکر چاره و نجات از او
پناهت باد خدا ماین پال برادر
چگویم از این احوال پر خطر
چو (اومر) اینقدر زحمت کشیده
(منیره) هم از غم ماینها بریده

ماینونه او ناتارونه

ناچاوده مهماتو تباه کړي زمونږ کلي او ښارونه
په پاتی نورو سیموکی کرل شوي دي ماینونه
ماینونو له جملی نه شوپرك ضدد انسان دی
فشاریي چی پوره شي پخپل سرکوي فیرونه
رنگونو کی شکلن ځیني یي شنه او ځیني تور دي
جوړشوي پلاستیك نه هم وژل کاهم ټپونه
بل ډول یي وسپنیز دي چی جوړشوي لکه میخ دي
یوسیم ورپوری نښتی چی شي کش کوي وارونه
بل قسم یي صندوقچی په شانته جوړله رنگه شین دی
نږدی نشئ ونکړئ پری هیڅ رنگه تماسونه
هغه چی وسپنیز دی د پکي غوندی یی رنگ دی
ولاړ په شپروپښو په سیم تړلی یي دوه سرونه
بل ډول یي قندانئ په شان،په شکل کی گردی دی
بو سریی پلاستیك بل یي د ربړ جوړ غمونه
چلم په څیریي بل قسم دا هم له رنگه شین دی
یوسیم ورپوری نښتی چی شي کش کړي آوازونه
یوډول یي تلویزیون په شان تیار دننداړو دی
چی سیم ته ورنږدی شئ تری پیداشي آفتونه
ماینونه دتانگ ضد خورنگارنگه دي یارانو
هر ډول یي د افغان په کور جوړ کړي ناتارونه
چی چیرته کروندي یا نهیدلي دیوالونه
دښمن داستا په مخکی غوړولي دي جالونه
له پټو بلاگانو ځیني خلاص مو خپل وطن کړئ
بمونه ایښودشوي چي ویجاړ کړي سرکونه
که غواړئ چی وطن مو دوباره بیرته ودان شي
د ماین په پیژندوکي په احتیاط اخلئ گامونه
هر وخت چی نااشنا داسي یوشئ نه څوك خبر شو
«نژنده» ژر په ډاگه کړئ یو بل ته خپل فکرونه

زمونږ ودان کورونه
خبرشئ له مضمونه
وژونکی د حیوان دی
خبر شئ له مضمونه
مغروره پخپل زور دي
خبرشئ له مضمونه
په ځمکی کی یي بیخ دی
خبرشئ له مضمونه
هریونه مي زړه خورین دی
خبرشئ له مضمونه
له ژوند سره په جنگ دی
خبرشئ له مضمونه
تیاردمرگ دبلی دی
خبرشئ له مضمونه
دوسپنی ناورین دی
خبرشئ له مضمونه
ولار په څلور پښو دی
خبرشئ له مضمونه
ځان پوه کړئ عزیزانو
خبرشئ له مضمونه
ویالی وي اوکه پلونه
خبرشئ له مضمونه
دپلار نیکه مدفن کړئ
خبرشئ له مضمونه
مشهور په تول جهان شي
خبرشئ له مضمونه
یا تیر يي تر نظر شو
خبرشئ له مضمونه

دننګرهاردماین پوهنې او ژغورنې دخبرتیائي تیم (D) له خوااستول شوې رښتانې کیسه

دکډوالی کړاو اودماین ناورین

دماین دا ناورین د۱۳۷۶هجري لمریز کال د روژې په څلورمه د ورځې په یوولس بجو د ننګرهار د سمرخیلو په سیمه کې پیښ شوي دي.

نصرت خان چې د تګاب د ولسوالی د اخندزاده ګانو د کلي اوسیدونکی او یو پنځه لس کلن ځوان ؤ د خپل ماما کورته چې د سمرخیلو د تګاب کمپ کې یي دکډوالی له کړاوه ډکې شپې او ورځې تیرولې په میلمستیا راغلی ؤ. دوه ورځې د میلمستیا څخه تیرې شوي نه وې چې د کمپ د یو ملا امام سره ددیني علومو په زده کړه بوخت شو او په ډیر شوق به هر سهار دوختنه جومات ته د زده کړې لپاره ورتللو.

د نصرت خان کورنی په خپل اصلي ټاټوبی (تګاب) کې د بې وزلی او غریبی شپې او ورځې تیرولې خپل ورځنی خرچ او برچ ته هم حیران وو. څه موده وروسته نصرت خان دخپلي مدرسي د لګښت لپاره دکار اوبار دپیداکولو په فکر کې شو، هماغه و چې وروسته د ډیر چرت وهلو یي د کباړ کار او بار پیل کړ او هره ورځ به وروسته ترمدرسي دکباړ ټولولوپاره د خپلو ملګرو سره یوځای د سره دیوال ډاګ ته چې د جلال آباد، تورخم د لوی لارې په اوږدو کې پروت دی تللو او څه ناڅه کباړ به یې راټولول او دهغو دخرڅولو له لیارې به یې د خپلې مدرسی خرچ برابراوه. د روژې د میاشتی څلورمه ورځ وه دری ورځې د کبار ټولولو څخه تیري شوې نه وې چې نصرت د مدرسی څخه ستړی او ستومانه راغی، خپله بوری یې په اوږه کړه او د سره دیوال د ډاګ په لور روان شو د پاو یا نیم چارك په اندازه کباړ به یې ټول کړي نه وه چې نابېره چپه پښه یې په قنداني ډوله ماین برابره شوه، نصرت خان وایي چې «د چاودنی سره سم نورپه ځان پوه نه شوم درې ورځې وروسته کله چې په هوش راغلم د ډیر درد له لاسه مې چیغې وهلې او ډیر یې په عذاب کړی وم، یوه نیمه میاشت مې دننګرهار ولایت د عامې روغتیا روغتون د جراحي په څانګه کې دناورین اوغم ورځې اوشپې تیرې کړې کله چې د روغتون څخه راووتلم زما کورنی هم کډوالی ته اړه شوې وه یوه بله میاشت مو هم په کمپ کښې تیره کړه.

غریبي او بې چاره ګي راباندې زور وکړ نو مجبور شو څو دکمپ څخه د ثمرخیلو کلي ته کډوال شو او پلار مې هلته ددهقاني په کار او بار پیل وکړ. په دې توګه مو خپل وخت تیراوه».

ما د نصرت خان څخه تپوس وکړ چې پلار دې څو کلن دی او دکورنی دغړو شمیره مو څو تنو ته رسیږي؟

هغه په ځواب کې راته وویل چې «پلار مې ۵۵ کلن او دنري رنځ په ناروغی اخته دی، د مجبوری او ناچاری له کبله د دهقاني کار کوي ځکه چې کور کې بل څوك د نفقې ګټلو لپاره نه لرو».

نصرت خان وایي چه «زه د پلار مشر زوی او درې نور وروڼه رانه کشران، یوه خور او مور مې هم راسره دي او پلار سره مې ددهقاني په کار کې مرسته کوي».

ما دنصرت خان څخه بله پوښتنه وکړه چې ستاسي ژوند په وطن کې څنګه وه؟

هغه وویل: چه «په وطن کې موږ په شریکه لس بسوې ځمکه او یوه کلا درلوده او هلته مو هم د بل چا ځمکه په دهقاني کرله». نصرت خان اوس دوه جوړې شوې مصنوعي پښې لري او د چکسونو په مرسته له یوه ځایه بل ځای ته ګرځي راګرځي او ژوند یې دکړاوونو سره مخامخ دی.

نصرت خان یوه ورځ د اومر د موسسی دماین پوهنې او ژغورنې د D تیم یوټولګي ته چې دننګرهار د سمرخیلو په کلي کې په فعالیت بوخت ؤ، راغلی ؤکله چې دماین پوهنې او ژغورنې د استاد درس ختم شو خپل لاس یې پورته کړ او د استاد څخه یې غوښتنه وکړه چې استاده!

زه ستاسو په اجازه ګرانو کلیوالو وروڼو او خویندوته څه ویل غواړم. استاد ورته اجازه ورکړه، نصرت دټولګی مخې ته راغی او داسې یې وویل: «زه د قنداني ډوله ماین له لاسه بې پښو شوی یم، زما دې نیم ځانه حالت ته وګورئ زه ډیروستونزو سره مخامخ یم، دکار او روزګار نه پاتې یم. او دخلکو د اوږوبار یم.

کاش! مخکې له دې چې زه بې پښو شوی ؤم د اومر خیریه موسسی دماین پوهنې او ژغورنې پروګرام لپاره ددې امکان پیداشوی وای او دغه ستر بشري پروګرام یعنې دماینونودخبرداری پروګرام یې زمونږ لپاره پرمخ وړی وای. اوس به زه هم ستاسې په شان روغ رمټ وم او له دې امله به نه رنځیدم.

زه او د هیواد ټول خلك د اومر خیریه موسسی دماین پوهنې او ژغورنې دخبرتیائي پروګرام څخه مننه کوو.

ددې پروګرام چلوونکي ښوونکي په ډیره اغیزمنه توګه دغه بشري پروګرام ته پراختیا ورکوي او له دې امله زمونږ زیات شمیر هیوادوال د مرګ او ژوبلې څخه ژغورل کیږي.» په پای کې دماین پوهنې او ژغورنې ښوونکی داسې وویل:

«تاسې ښایي د اومرخیریه موسسی دماینونو دخبرتیا پروګرام لارښوونوته پوره پاملرنه وکړئ په اولسي توګه دهغې په لاپراخولوکې برخه واخئ څو دماینونو اوناچاوده مهماتو له خطرونو څخه په امن کې پاتې شئ او دنصرت په شان په کړاو اوناورین اخته نه شئ» ■

اخبار

۱- محترم الحاج فضل كريم فضل رئيس مؤسسه خيريه اومر از تاريخ ۵ الي ۱۸ ماه مى سال ۱۹۹۸ از كشور هاي جرمني و هاليند بازديد به عمل آوردند. ايشان ضمن اشتراك در سيمينار پروگرامهاي پاكسازي و آگاهي از خطرات ماينها در مورد چگونگي خطرات ماينها و فعاليت هاي متنوع مؤسسات ماين پاكي توضيحات ارزشمندى را ابراز نموده و به خصوص آماده گي وكاركرد موسسه خيريه اومر را جهت پيشبرد فعاليت هاي متنوع ماين پاكي وبازسازي افغانستان تبارز دادند.

۲- اخيراً به اساس فيصله هاي جلسات مسؤلين موسسه خيريه اومر لازم پنداشته شد تا مسؤلين دفتر مركزي وقتاً فوقتاً جريان پيشبرد امور را از نزديك بررسي نمايند به اين اساس قبلاً محترم شريف الله ابراهيمي منتظم پروژه تربيوي پروگرام آگاهي و مصؤنيت از خطرات ماينها كار خويش را در دفتر ساحوي كابل اغاز نمودند همچنان اخيراً محترم انجينير ذكريا پاياب امر اپريشن موسسه خيريه اومر به سلسله بازديد از دفاتر ساحوي كشور امور دفتر ساحوي كابل را از نزديك بررسي نموده ايشان در مورد بهبود امور مربوطه تدابير لازم را اتخاذ نموده اند.

اميد ميرود به اين وسيله زمينه توسعه بيشتر فعاليت هاي انساني و بشري موسسه خيريه اومر در كشور مساعد گردد.

۳- اخير اً به اساس انكشاف، توسعه تنظيم و پيشبرد بهتر امور مربوط دفتر ساحوي اين موسسه در شهر كندهار تاسيس گرديده و دفتر ساحوي مذكور با همكاري نزديك دفتر ساحوي يونوچا و دفتر مركزي موسسه خيريه اومر در پيشبرد امورد مربوطه فعاليت مي نمايد. در اثر فعاليت اين دفتر اهالي و باشنده گان ولايات حوزه جنوب غرب در عرصه پروگرامهاي ماين پاكي و اگاهي از خطرات ماينها از خدمات انساني و بشري اين موسسه هرچه بيشتر مستفيد خواهند شد.

٤- اخيراً يك تيم اگاهي از خطرات ماينها مربوط به موسسه خيريه اومر پروگرام تربيوي و اگاهي خويش را در ولايت بدخشان آغاز نمودند در تيم مذكور يك تن سوپروايزر و سه تن ماستر ترينران عضويت داشته و فعلاً در نواحي مختلفه شهر فيض آباد هموطنان جنگديده و بلاكشيده خويش را از خطرات ماينها با خبر نموده تا از كشته و زخمي شدن مصؤن بمانند.

۵- محترم الحاج فضل كريم فضل رئيس موسسه خيريه اومر و چندتن از كاركنان اين موسسه بتاريخ ۲۹ ماه مى ۱۹۹۸ در گردهم آئي باشكوه روز پروگرام عمليات ساحوي ماين پاكي اشتراك نمودند.

الحاج فضل كريم فضل رئيس موسسه خيريه اومر و ساير مسؤلين آن موسسه‌در نمايشگاه مواد درسي پروگرام اگاهي از خطرات ماينها در شهر پشاور ديده ميشود.

اين گردهم آئي به اشتراك و همكاري موسسات غير دولتي ماين پاكي و خبرداري از خطرات ماينها از طرف اداره يونوچا در شهر پشاور برگذار گرديده بود. رؤسا و كاركنان ساير ادارات و موسسات نيز درين گرد هم آئي اشتراك داشتند مدعوين بعد از استماع توضيحات مسؤلين مربوطه در مورد پروگرام عمليات ماين پاكي و خبرداري از خطرات ماينها از عمليات نمايشي ماين پاكي و نمايشگاه هاي تدوير شده آنها ديدن به عمل آوردند.

كاركنان مؤسسه خيريه اومر فعاليت ها و مواد درسي پروگرام آگاهي ، شناسائي و مصؤنيت از خطرات ماينها را به معرض نمايش قرار داده بودند كه مورد توجه بيننده گان قرار گرفت و ضمناً نشرات مختلف اين موسسه براي شاملان گردهم آئي توزيع گرديد. ■

OMAR's Brilliance

OMAR mine clearance and mine awareness programs, not only welcomed nationally inside Afghanistan, but it has come to be known internationally because of being systematically active in the world arena, representing Afghanistan as a national NGO. Although OMAR's humanitarian services have played a significant role in restoring peace and rehabilitation to the war-ravaged nation. The verbal and written messages/ appreciation letters from the local public, local administrations and the local authorities with regard to OMAR performance on one hand and on the other invitation of leading personnel of OMAR to the international conferences in the field of mine awareness and mine clearance are very good manifestation of the above claim.

One can judge success of OMAR, as various social and political figures have visited its activities and programs inside Afghanistan. It provided every opportunity to the world influential personalities to travel to Afghanistan & assess mine awareness and mine clearance programs. In addition, OMAR facilitates foreign university students to spent their elective period at the unversities inside Afghanistan, as two Canadian professors, one medical student and two researchers went to Nangarhar to work in collaboration with Nangarhar University during 1996 and 1997.

Recently Dr. G. Mulack of German Foreign Office has paid a visit to Herat. During his mission he visited OMAR mine awareness and mine clearance field activities there, and he was well impressed by OMAR field activities in the field inside Afghanistan. Though it was not his first visit of OMAR activities in the above mentioned fields.

At present OMAR receives financial assistance from the United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Assistance to Afghanistan (UNOCHA), European Community (EC), Netherlands Organization for International Development Cooperation (NOVIB) and the Federal Republic of Germany to implement its projects on purely humanitrain grounds.

OMAR mine awareness & mine clearance programs paved the way for rehabilitation/reconstruction, social, economical & cultural activities in Herat province.

Although OMAR since its establishment has attempted to developed and sustain its mine awareness program through employing key community people. Thus in late 1996 OMAR planned, improved and implemented sustainable activities in different provinces of the country through establishing community-based mine awareness councils e.g. in Kabul, Nangarhar, Paktia, Paktika, Ghazni, Herat and Badghis provinces. For this purpose OMAR has involved local councils (Shura), and community leaders including male and female school teachers and religious leaders (Imams). OMAR has continued to mobilize target communities by involoving community leaders and local councils who help identify community volunteers to attend training whokshops on mine awareness. As a follow up measure, every three months a supervision team holds a two-day refresher training seminar for the community volunteers. This will ensure that the local mine education programs are periodically monitored and the education messages remain current.

OMAR de-miner while excavating in an anti-personnel minefield to locate a mine.

OMAR has been carrying on mine clearance in western Afghanistan since 1992. Teams of mine clearance are currenlty working in Herat, Farah, Kandahar, Badghis and Kabul provinces of Afghanistan. All de-mining teams are supported heavily with logistic support and with vehicles and emergency medical teams. So far, mine clearance teams of OMAR have cleared 14,847,214 square meters of different types of minefields, locating and destroying 663 anti-tank, 25,343 anti-personnel mines; 20,138 unexploded ordnance and 9,633,030 fragments were detected in the above mentioned provinces of the country. Moreover the mine clearance teams cleared 6,845,880 square meters land in Herat and Farah provinces which were formerly battle area between the government and opposition forces. In future OMAR would also like to expand its operations into other provinces of Afghanistan, when required.

In addtion OMAR has implemented projects in the field of rehabilitation i.e. drug awareness project in northern Afghanistan in 1993; carpet weaving, tailoring and nursery projects for Afghan widows and carpentry project for orphans n IDPs camps in Nangarhar province. Also income generating project for handicapped people in Herat province. ☐

OMAR Mine Clearance & Mine Awareness Education Field Activities

31 April 1998

In fact, Afghanistan ranks among the top three heavily mined countries in the world where a tremendous number of land-mines and unexploded ordnance (UXO) remain scattered across the country. The war-torn, land-mine infested country has taken a heavily toll on the Afghans by forcing them to flee their homes with the fear of never returning back.

The Organization for Mine clearance and Afghan Rehabilitation (OMAR) is an Afghan non-governmental, non-political, non-profit organization, solely depending on donors, which was founded in 1990 on purely humanitarian grounds to reduce the problems of mines in Afghnistan. During the past decades, an estimated more than seven million mines contaminate Afghanistan's soil, and their presence today is still posing a major hindrance to repatriation and reconstruction, and has accounted for scores of maiming and civilian deaths.

OMAR's workings are mainly two-fold on the one hand it is the sole organization teaching mine awareness education and advancing mine awareness training to Afghans, and on the other, OMAR teams are actively engaging in mine clearance work; with its total personnel of 600.

Mine awareness training is done by teams of master trainers who travel throughout the countryside to instruct the people on all aspects of mines, to help minimize the danger to themselves and to their families until such time as the mines can be removed. The teaching has proven invaluable in helping prevent mine related fatalities and loss of limbs, and to date OMAR has reached 3,132,597 men, wormen, children, foreign and local NGO's staff.

OMAR carries out mine awareness program according to the interest of the trainees & a specific methodology.

Preface:

MINE IN ENEMITY WITH SAFETY (AMN)



Have you ever, for a moment thought in your life that land-mines kill and injure many people all over the world, especially in war-ravaged Afghanistan that brought about their deaths and injuries due to a two-decade undeclared war. Land-mines are the most cruel and indiscriminate enemies that do not differentiate men, women and children.

Those human lovers who have worked in restoration of safety, that cost the loss of their lives or parts of their bodies, whose sacrifices and respect will remain in our hearts, and deserve to be appreciated for ever.

Nowadays, the matter is crystal clear and people have come to know their friends and enemies with respect to the problems of mines grasping them in a mine contaminated country. At one end mines and mine-liked people who are involved in manufacturing, trading and using land-mines are equally destructive and dangerous to the human and animal life. And at the other end those who have a goodwill, assuming death and martyrdom, voluntarily clearing mines from their beloved country to rescue the innocent people, though they know that mines are awaiting them as a blind enemy, work for the prosperity of others. They will not lay down their arms (mine detectors) unless Afghanistan is entirely cleared of mines and safety (AMN) is restored in the country. We believe that their wishes will turn into reality and there will be complete safety and a prosperous society by the financial assistance of donor and international communities, enabling mine clearance agencies to carry on their life saving operations.

OMAR is proud of serving and being a member of this convoy moving forward in order to educate oppressed Afghans on the dangers of mines through its mine awareness education, mine clearance and rehabilitation programs in preventing hazards of mines and return of safety.

OMAR has come to be known internationally due to its sincere services, international efforts and neutrality on the ground.

In order to carry on its activities and gain success in urgent elimination of mines to rescue war affected Afghans, OMAR needs the overall assistance of international communities. We hope that Afghans will extend their full cooperation in elimination of hazards of mines from their country and join us in restoration of safety in this ancient country. Thus, safety will restore and by the grace of God Afghans will take part in reconstruction/ rehabilitation of their homeland.

AMN

Magazine

Second Edition
Vol. 5 May 1998

Published by:
Organization for Mine clearance & Afghan Rehabilitation (OMAR)

Editorial Board:
Founder & Editor in-Chief
Haji Fazel Karim Fazel
(Abdur-Rahimzai)

Staff Writers:
Prof. Dr. Zewaruddin Zewar
Dr. Gh. Dastageer Hazrati
Dr. Sayed Fazel Rabbani
Asstt. Prof. Sher Khan Reshteen

Editor:
Asstt. Prof. S. K. Reshteen

Compose & Design
Engr. M. A. Jawad
Photo Reporter:
M. Hanif Aleem

Address:
H15, Opposit Tatara Park, D1, Phase I
Hayatabad, Peshawar, Pakistan.
Tel: 92- 0521- 812084 . 814599
Fax: 92-0521-812085
P.O. Box: 1433 University Town Peshawar.

Organization for Mine clearance and Afghan Rehabilitation (OMAR)

In this Vol.

Sub. **Page**

Mine in enemety with safety. 1
OMAR mine clearance & mine awareness efforts in Badghis province......................... 1
Effectiveness & brilliance of mine clearance activities... 2
Mine in enemity with safety (Continued) 2
Importance of Health Care in mine awareness program.. 3
Mine explosion & its impact 4-5
Cancer-like mine... 6
Breeze of literature... 7 - 8
Displacement problems and mine Tragedy... 9
News... 10

(English Part)

Mine in enemity with safety...................... 1
OMAR mine clearance & mine awareness field activities... 2 - 3
OMAR's Brilliance.................................. 4

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

خبرتیا

بلو مون سلک سکرین د خپرونو نوی کارځای د خپرولو په آسمان کی یو نوی نوم

دا کار ځای ستاسی د هرډول فرمایشاتو په منلو ستاسی تصویرونه او لیکنی د ټکرانو، پلاستیك، کاغذ او ښیښی پرمخ په اسانو شرایطو په اعلی او ډاډمنه توگه چاپ او خپروي. دخپلو فرمایشاتو په رالیږلو سره د خپرولو دی نوي کار ځاي ته پیاوړتیا وبخښی.

آگاهي

بلو مون سلک سکرین - دستگاه جدید چاپ و یک نام جدید در آسمان نشرات.

این دستگاه جدید باپذیرش هرنوع فرمایشات تصاویر و نوشته ها بروي تکه، پلاستیک، کاغذ وشیشه باشرایط سهل، چاپ اعلی ومطمئن در خدمت شما هموطنان قرار دارد. با ارسال فرمایشات تان این دستگاه جدید چاپ را تقویت بخشید.

ATTENTION

Blue Moon Silkscreen, a new publishing apparatus and a new name in the world of publishing.

This new apparatus accepts any kind of your printing orders on cloth, plastic, paper and glass with a fair condition and an excellent quality.

H. No. 1, Street No. 3, Chaparhar Road, Jalalabad,
Afghanistan.

The back cover shows OMAR Mine Awareness activities in Helmand and Mine clearance activities in Kabul Provinces.

AMN Magazine

Second Edition: Vol. 5
May 1998

Be aware of mines and UXO

OMAR Mine awareness and de-mining operations pave the ground for rehabilitation in war-torn mine infested country.

Organization for Mine clearance and Afghan Rehabilitation (OMAR)